# ډاکټر خانصیب

مفلس دراني



د ډاکټر خانصیب اصلي نوم عبدالجبار نهٔ بلکې خانصیب ؤ او دغه نوم د هغهٔ د سکول او کاغذات مال نه ثابت دے.

ډاکټر خانصیب د خان عبدالغفار خان باچاخان مشر ورور ؤ خو په پښتنو کښې هغه د ډاکټر خانصیب په نوم پیژندلے شو. هغه د سرحد د وزیراعلي نه علاوه د ون یونټ هم وزیر اعلي او په مرکز کښې د محمد علي بوګره د وزارت په زمانه کښې د مواصلاتو وزیر هم پاتې شوے ؤ. هغه یو عظیم انسان او د غریبانانو لوئے همدرد ؤ. هغه یو ماهر ډاکټر او د انګریزانو په پوځ کښې د کپتان په عهده پاتې شوے ؤ. هغه یو تاریخ ساز شخصیت ؤ او د برصغیر د آزادۍ په تحریک کښې د ستائینې وړ خدمات ئې ترسره کړي دي. عن تر دې چې کله په برصغیر کښې د ترک موالات تحریک شروع شو نو هغوی نه یوا ځې دا چې د پوځ نه استعفي ورکړه بلکې دغې عهدې سره تړلې ټول مراعات ئې هم واپس کړل.

خو افسوس چې یو ظالم او خُوني انسان په ۹ مې ۱۹۵۸ هغه د یو سازش لاندې شهید کړهٔ خو د هغوي د شهادت نه پس چې په قوم او په خپلو خپلوانو د هغهٔ کوم حق ؤ هغه نهٔ قوم ادا کړهٔ او نه د هغهٔ خپلو، هسې پکار خو دا وه چې د هغهٔ د ژوند په کارنامو ښو کتابونه لیکلے شوي وے. هر کال پرې سیمینارونه شوي وے چې نوے کهول د هغهٔ د کارنامو نه خبر شوے وے ځکه چې د هغهٔ په ټبر کښې اعلي تعلیمافته او د ښمنو کمے نشته.

خو افسوس چې قوم د هغهٔ د قومي خدمت او کارنامو نه محرومه پاتې شو. ځکه چې مونږ یو بې حسه قوم یو مونږ د خپلو مشرانو نه په ژوند قدر کړے دے او نهٔ د مرګ نه پس. خدائے تعالي دې ښه وکړي سیدفضل حسین زیدي سره چې د هغوي د وزارت په دوران کښې انفارمیشن افسر ؤ او هغوي

د پېښور انګرېزي اخبار "فرنټيئر پوسټ" د ۲۷ مې ۲۰۰۲ په ګڼه کې په يو انګرېزي مضمون کښې " د ډاکټر خانصېب په ياد کښې" د سر ليک لاندې د هغهٔ د ژوند څو واقعات ليکلي دي. زيدي صېب ليکي چې: " د سرحد تېر زوړ ګورنر سر اولف کېرو" خپل کتاب "دې پټهان" کښې ليکي: چې ما يو ځلې د ډاکټر خانصېب نه تپوس اوکړو چې تاسو په ژوند کې د کوم يومثالي شخصيت نه متاثر شوي يئ؟ نو د هغوي سمدستي جواب ؤ د شېرشاه سوري نه ځکه چې هغه د اولس د ښېګړې او اسانتيا دپاره ځائے په ځائے کوهي او سرائے ګانې جوړې کړې وې. د پاکستان يو تېر صدر سکندر مرزا چې د ډاکټر صېب کلک دوست ؤ ليکي چې ډاکټر خانصېب په رښتيا يو عظيم انسان ،مخلص دوست، زيړ پښتون او يو مکمل شريف انسان ؤ او د آزادۍ د تحريک نامتو ليډر ؤ.

د بر صغير د آزادۍ دپاره د هغهٔ قربانۍ او صبر استقلال سره د هرې سختۍ او ظلم د مقابلې هغه يو مثالي شخصيت جوړ کړے ؤ او د اولس سره خېر ښېګړې او همدردو هغه يو هر دلعزيز ليډر جوړ کړے ؤ "زيدي صېب" مخکښې ليکي چې زما ملاقات ډاکټر صېب سره د انفارمېشن افسر په حېث په ۱ دسمبر ۱۹۵۲ء کښې شوے ؤ. کله چې هغه د محمد علي بوګره په کابينه کښې د وزير مواصلات په حېث شامل شوے ؤ. د هغهٔ د ټولو نه لوئے صفت د پاکستان د غريب اولس د خپل ځان او مال او نورې ټولې وسيلې وقف کړې وې. هغوي دخپل وزارت ټولې عملې ته په خپل اولني تقرير کښې ووئيل چې: " زما خپل هيڅ څهٔ خواهش نشته بس دا غواړم چې د غريب قوم بې طمعې بې لالچه خدمت وکړم او زهٔ ستاسو نه هم دغسې توقع لرم چې دا سياسي او معاشي ازادي د اولس او قوم په ښه راولو. زېدي صېب مخکښې ليکي په هغې ورځو کښې خلقو ته د تګ راتګ سخت مشکلات وو نو هم د ډاکټر صېب د کوشش اودلچسپۍ په وجه کراچۍ روډ ټرانسپورټ کارپورېشن جوړ شو. ډاکټر صېب ښه په باقاعدګۍ سره دفتر ته چې کراچۍ کښې په تغلق هاؤس کښې ؤ، هره ورځ راتلو او د راتلو سره سمدستي د تللو او راتللو تمرينونو (ګاډو) ټائمونه به ئې چيک کول ځکه د هغوي په خيال کښې د ګاډو په پوره وخت تلل راتلل د ښهٔ کار کردګۍ علامت او نخښه ده. د کراچۍ د ميرپور خاص ګاډے به همېشه لېټ ؤ. په دې لړ کښې ډاکټر خانصېب د رېلوې ډويژن سپرډنټ له څو وارې وارننګ ورکړو خو بې فايدې نو ډاکټر صېب د هغې افسر چې د وزيراعظم محمد علي بوګره اوخے ؤ، د بدلۍ احکامات جاري کړل. بيا وزيراعظم ډاکټر صېب ته د دغې حکم د واپس اخستلو دپاره ووئيل خو ډاکټر صېب دغه حکم واپس اخستلو نه چورلټ انکار وکړو. بل ډاکټر صېب دخپلو مصروفياتو فهرست به په خپله تيارولو او هره مياشت به ئې د کراچۍ نه تر پېښوره سفر په ګاډي (ټرېن) کښې په دې غرض کولو چې هغه په خپله د درېمې درجې د ګاډي د مسافرو دپاره په رېلوې سټېشنونو شوې اسانتياوو جائزه واخستې شي او هره هفته به د کراچۍ په بندرګاه د نوې جتۍ جوړولو کار په خپله وګوري او په هره درې مياشتې پس به ئې د نمر ختيز پاکستان (بنګله

دېش) د چټاکانګ د بندر ګاه د کار معاينه کوله او دغسې به د مواصلاتو سره تړلې د نورو محکمو لکه ډاک او ټيليفون نه به ئې ځان خبرولو او دغسې په کارونو کښې ليدلے شوے کم او زيات ځيزونو باندې د هغې محکمې افسرانو سره صلاح او مشورې کولې.

د ډاکټر صېب د ريلوې د ډايريکټر جنرل مفيد الحسن او د محکمه ډاک په کرنل ايس اې صديقي ډايريکټر جنرل او محمد حسين چيف انجنئر ټيليفون باندې پوره باور وو او ما د ډاکټر صېب نه څو وارې اورېدلي وو چې پاکستان له په دې افسرانو فخر او وياړ پکار دے.

زېدي صېب ليکي چې يوځل د خزانې وزارت د پوسټ کارډ قيمت د يوې پېسې د زياتولو تجويز پېش کړو چې خرچه پوره کړې خو ډاکټر صېب د دې تجويز په دې مخالفت وکړو چې دا د غريب سړي د خبر خبريت معلومولو ذريعه ده نو ځکه دې دا بوج دې په غريب اولس وانۀ چول شي بلکې هغه تجويز وړاندې کړو چې د ډاکي تنخوا د ټولونه کمه ده د هغه تنخوا دې زياته کړے شي. په دې لړ کښې چې هغوي وزيرخزانه چودري محمد علي سره خبره وکړه نو هغوي په دې انکار وکړو چې بجټ کښې نور ګنجائش نشته او کله چې هغوي د وزير خزانه دغه خبره سيد تقي ته وکړله نو هغوي جواب ورکړو چې د يو بابو نه نوره څۀ توقع کېدے شي.



ډاکټر خانصېب، باچاخان او عبدالصمدخان اچکزے

زېدي صېب ليکي چې ډاکټر صېب سره زما اخري ملاقات ۱۹۵۶ء لاهور کښې هغه وخت وشو چې کومو ورځو کښې هغه سکندر مرزا کره راغلے ؤ چونکې زۀ ډېره موده ډاکټر صېب سره پاتې شوے وم نوزۀ د هغوي سلام له هلته ورغلے وم او چې کله صدر سکندر مرزا او ډاکټر صېب د ننه کمرې ته ننوتل نو دلږ ساعت دپاره دواړو پښتو کښې خبرې کولې نو ناڅاپې ډاکټر صېب صدر سکندر مرزا ته ووئيل " فېروزخان (چې هغه وخت وزيراعظم ؤ) راته وئيلي دي چې تا ته وزيراعظم فېروز خان نون په کلکه وېنا کړې ده چې هغۀ ته جنرل ايوب خان له په دوېم ځل د کمانډر ان چيف عهده ساتلو اجازت ورکړو خو زما نه ليکلي واخله ځنګه چې د هغه ورور سردار بهادر خان په ما د شانه ګوزار وکړو دغه شان به ايوب خان په تا هم په پټه ګوزار وکړي (او بيا دنيا وکتل چې د ډاکټر صېب دغه پېشنګويي ځنګه ټيک وختله) او وروستو ايوب خان صدر اسکندر مرزا لرې کړۀ او په خپله مخکښې ئې خان مارشل لاء ايډمنسټر جوړ کړو او بيا ئې ځان صدر کړۀ چې ډاکټر صېب خبره ختمه کړله نو اسکندر مرزا ډاکټر صېب د لاس نه ونيولو وې راځه په مېز خانم (د سکندر مرزا ټبر) د ډوډۍ انتظار کوي او دواړه دننه لاړل.

د ډاکټر صېب متعلق د صوبې يو ټبر وزيراعلي عبدالقيوم خان خپل ليکلي کتاب Gold)

and Gun on the Pathan frontier) چې بیا په خپله ئې دغه کتاب باندې چې کله هغه وزیراعلی شو بندیز ولګولو اوس دد دغې کتاب پښتو ترجمه د "زور او زر" په نوم چاپ شوې ده. هغه لیکي چې" ډاکټر صیب په ټوله صوبه کښې ډېر هردلعزیز او اولس کښې ئې عزت او احترام دے او دوست او دښمن دواړه د هغهٔ د ایمانداری او صاف ګویئ قایل دي. هغه هغه قسمه سیاستدان دے په کومه معنی کښې چې نن پرون دا نوم اخستے شي. هغه په خپله چې څهٔ صحیح ګڼي په هغې باندې بې د څهٔ ویرې ترهې عمل کوي کهٔ څوک ورسره هر څومره بد وکړي د ډاکټر صیب په زړهٔ کښې د هغهٔ نه پوتے نفرت نهٔ وي " دا وو د ډاکټر صیب متعلق د هغهٔ د یو غټ دښمن تاثرات" کله چې هغه وزیراعلی ؤ نو خپل زوئے عبیدالله خان ئې هم جېل ته لېږلے ؤ یو ځل د اسمبلۍ ممبرانو د هغه نه د څهٔ مراعاتو مطالبه وکړله نو ډاکټر صیب ورته ووئیل چې زهٔ اوس استعفی ورکولو ته تیار یم تاسو خپل څوک داسې کس (ممبر) پارټۍ لیډر جوړ کړئ چې ستاسو په تول پوره وي چې د ولس په ځائے ستاسو د مفاداتو خیال وساتي او تاسو خوشحاله کړي. وائي چې یو ځل د نوښار بازار کښې روان ؤ ناڅاپي یو سړي رامنډه کړه او وزیراعلی ئې د ګرېوان نه ونیولو وایه تاسو تر اوسه پورې څهٔ وکړل سره د دې چې پولیس د هغې سړي د لرې کولو کوشش کولو خو ډاکټر صیب پولیس ته ووئیل پرېږدئ دا د دهٔ حق دے. ډاکټر صیب هغه سړي ته ووئیل نابالغه مخکښې خو چې به تا د پولیس سور پټکے لیدهٔ نو کوڅې به دې پناکولې او نن تا په ډک بازار کښې د صوبې وزیراعلی د ګرېوان نه نیولے دے او بیا هم وایې چې تاسو مونږ له څهٔ وکړل؟

د ضلع چارسدې د ټولو نه زوړ بزرګ صحافي سید احد باچا چې د باچاخان زوړ او کلک ملګرے ؤ او د باچاخان نه واخله تر ولي خان او اسفندیار ولي خان پورې په جېلونو کښې پاتې شوے ؤ او هر قسمه مالي او ځاني قربانۍ ئې ورکړې دي وائي چې یو ځل مونږ د ډاکټر صیب مشر زوئے عبیدالله خان سره هرې پور جېل کښې قېد وو چونکې د خوراک څنباک معامله کښې دجېل حالت ډېر خراب ؤ او د جېل داروغه چې یو انګرېز ؤ او د قېدیانو سره د هغهٔ سلوک ډېر ظالمانه وو نو دغسې د عبیدالله خان په وېنا جېل کښې ټولو قېدیانو بوک هړتال شروع کړو چې د صوبې وزیراعلی ډاکټر صیب ته پته ولګېدله نو اول خو ئې ټولو ته د هړتال د ختمولو دپاره ووئیل خو چې هړتال چا مات نهٔ کړو نو بیا به ئې هره ورځ خپل کمپوډر بهائي خان رالېږلو چې مونږ ټولو ته به ئې انجکشني کولې اوپ ه دربمه ورځ به په خپله معاینې دپاره راتلو د جېل داروغه خو اول په هړتال څهٔ غوږ ونهٔ ګرؤ چې هړتال په لسمه ورځ کښې داخل شو نو بیا ئې ټولې مطالبې ومنلې او دغسې په لسمه ورځ هړتال ختم کړے شو.

دا وو هغه درویش صفت وزیراعلی عظیم انسان یو صحیح خدائي خدمتګار چې چرې ئې هم ځان د اولس نه اوچت یا جدا نهٔ ؤ ګڼلے. پېدا به شي نن څوک ډاکټر خانصیب په شان؟

ورک هغه چې نهٔ ئې نوم نهٔ ئې نشان وي تل ترتله په ښه نوم پائي ښاغلي